(پښتو)

DAWAT-E-ISLAMI



# تَذكِرهٔ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني
قُدِّسَ سِرُّهُ النُّوراني





شَیخِ طَرِیقَت، اَمِیرِ اَھلِسُنّت، بانیٔ دعوتِ اِسلامي، حَضرَت علّامه مولانا ابُو بِلال

**مُحَمّد اِلیاس عَطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتهم العالیة


پښتو ترجمه:
مجلِسِ تراجِم
(دعوتِ اسلامي)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# د کتاب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لاندي دُعا لولئ إِنْ شَآءَالله عَزَّوَجَلَّ څه چه لولئ هغه به مو ياد پاتې کيږي:

اَللّٰهُمَّ افْتَحْ عَلَيْنَا حِكْمَتَكَ وَانْشُرْ عَلَيْنَا رَحْمَتَكَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله جَلَّ جَلالُهٗ په مونږه د عِلم او د حِکمت دروازې برسيره [يعني بيرته] کړې او په مونږه خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرگۍ والا!

(مستطرف ج۱ص۴۰ دار الفکر بیروت)

(اول او آخر کښې يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)

طالبِ غم مدینہ بقیع ومغفرت

د رسالې نوم: تذکرهٔ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَیۡه

اول ځل: ..............

تعداد: ..............

ناشِر: مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المَدينه کراچۍ.

مَدَني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چاپ کولو اجازت نشته

## کتاب اخستونکي توجّه اوکړئ

که د کتاب په طباعت کښې څه ښکاره خامي وي يا پاڼړې کمې وي يا په بائنډِنګ کښې مخکښې وروسته لګيدلي وي نو مَكْتَبَةُ الْمَدِيْنَه ته رجوع اوکړئ.

# تذکِرهٔ مُجَدّدِ الف ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه

شیخ طریقت اَمیرِ اَهلِسُنّت، بانئِ دعوتِ اِسلامي **حضرت علّامه، مَولانا، ابُو بِلال محمّد اِلیاس عطّار قادِري، رَضَوي** دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا رِساله "تذکرۂ مجدد الف ثانی رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه" په اردو ژبه کښې لیکلي ده.

مجلسِ تراجِم (دعوتِ اسلامي) د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښې د وَس مناسب دَ ترجَمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې ترجمه کښې څه غلطي یا کمي، زیاتي اوموموئ نو ستاسو په خدمت کښې عرض دې چه مجلس تراجِم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.

**پیشکش:**

## مجلسِ تراجِم دعوتِ اِسلامي


برائے رابطہ:

عالمی مدنی مرکز فیضانِ مدینہ محلہ سوداگران

پرانی سبزی منڈی، باب المَدینہ کراچی، پاکستان

**UAN:** ☎ +92-21-111-25-26-92 – Ext. 7213

**Email:** translation@dawateislami.net

# فهرست


تَذکِرۂ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ........................................ 1

د دُرُود شريف فضِيلت ........................................ 1

وِلادَتِ باسعادت ........................................ 1

د قَلعې تعمير او د پينځم جَدِّ اَمجَد بَرَکت (حِکايت) ........................................ 2

د والِد ماجِد مُقام ........................................ 3

تعليم و تربِيَّت ........................................ 5

جاهِل صوفي د شيطان مَسخره ........................................ 6

ځوئ داسې وي ........................................ 6

پلار ورته اوګوري، د اولاد ثواب اوشي ........................................ 7

د مُجَدِّد اَلفِ ثاني صورت ........................................ 8

سُنَّتِ نِکاح ........................................ 9

مُجَدِّد اَلفِ ثاني حَنَفِي دې ........................................ 9

شانِ اِمام اعظم بزبانِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني ........................................ 9

اجازت او خِلافت ........................................ 10

د پير و مُرشِد ادب او اِحترام (حِکايت) ........................................ 11

مزار شريف ته حاضري ........................................ 12

د نيکئ د د عوت آغاز [يعني شروع] ........................................ 12

د اِمام غزالي ګستاخه ئې اورتهو (حِکايت) ........................................ 13

د ګستاخ عِبرتناك اَنجام (حِکايت) ........................................ 14

شوقِ تِلاوت ........................................ 15

په سُنَّت د عمل کولو اِنعام (حِکايت) ........................................ 15

د اُوده کيدو او رابيداريدو پينځه مَدَني ګلونه ........................................ 16

د بخښنې زيرې ....................... 17
د ثواب تُحفه (حِکايت)....................................................... 18
د حِکايت نه حاصليدو والا مَدَني ګلونه.......................... 20
د زرو دانو والا تَسبِيح......................................................... 20
د بــي بــي عائشه د اِيصالِ ثواب حِکايت ...................... 20
په ټولو ښځو کښې د ټولو نه ګرانه بــي بــي عائشه...................... 21
يو ولي بل ولي پيژني (حِکايت)........................................... 23
د ”سرهِند شريف“ د نهه حُروفو په نِسبت ۹ کرامات....................... 23
﴿۲﴾ فوراً باران اودريدو (حِکايت) ......................................... 24
﴿۳﴾ د هَټي د ښپو لاندې ئې اُوچقوئ (حِکايت) ........................ 24
﴿٤﴾ د ماشوم په باره کښې ئې غيبي خبر ورکړو (حِکايت).......................... 25
﴿٥﴾ د زړه په خبره پوهه شو! (حِکايت)........................................ 26
﴿٦﴾ غواړه څه غواړې .............................................................. 26
﴿٧﴾ د مُرِيد مدد ئې اوفرمائيلو (حِکايت)...................................... 27
﴿٨﴾ د بدعقيدګۍ ئې په خوب کښې علاج اوکړو (حِکايت) ................... 28
﴿۹﴾ د خپل وفات ئې د مخکښې نه خبر ورکړو (حِکايت) .......................... 30
د خاورې ماته پياله ................................................................ 30
د ساده کاغذ هم ادب پکار دې ........................................... 31
په لاره باندې کاغذونه په لتو مه وهئ ......................................... 31
د حُرُوفو تعظِيم پکار دې ................................................... 32
ځواني خنګه تيرول پکار دي؟................................................ 33
ځواني نعمتِ خداوَندي................................................................ 33
د حافِظ قُرآن ادب.................................................................... 35

د مُجَدِّد اَلِف ثاني ٤٠ معمولات ........................................ 35
د حضرتِ مُجَدِّد اَلِف ثاني عِمامه شريف ........................................ 38
د عِمامه [يعني پټکي] سره نمونځ د لس زره نيکو برابر ........................................ 38
آيا عِمامه به صرف عُلَماء تړي؟ ........................................ 39
عالِم او جاهِل ټول دِ عِمامه تړي ........................................ 39
اِتِّباعِ سُنَّت د عِشق رَسُول نښه ........................................ 40
تصانِيف [يعني کتابونه] ........................................ 41
د مُجَدِّد اَلِف ثاني رَحۡمَةُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیۡه ۱۱ اَقوال ........................................ 42
سندره غږول قتل کوونکي زهر دي ........................................ 44
په غوږونو کښ به ورته وِيلي کړې شوي سِيکه اړوي ........................................ 44
مناقِبِ غوثِ صمداني په ژبه د مُجَدِّد اَلِف ثاني ........................................ 44
مُجَدِّد اَلِف ثاني او اَعلیٰ حضرت ........................................ 45
مکتوباتِ اِمام رَبَّاني او اعلیٰ حضرت ........................................ 46
د وفات نښې ........................................ 46
وِصال مُبارك ........................................ 47
د جنازې نمونځ او تدفِين ........................................ 48
د اولاد مبارك نومونه ........................................ 48
خُلَفائے کرام ........................................ 49
مُجَدِّد اَلِف ثاني او خُلَفائے اعلیٰ حضرت ........................................ 49

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# تَذکِرۂ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ

شیطان که هر څومره ناراستي درولي، خو تاسو دا رِساله پوره اولوَلئ اِنْ شَآءَ اللّٰہ تعالٰی ستاسو زړه به ډیر زیات خوشحاله شي.

## د دُرُود شریف فضِیلت

د دوارِو جهانو د سُلطان صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارك دي: ”څوك چه په ما باندې د جُمُعې په ورځ او شپه ۱۰۰ ځله درود شریف اولوَلي اللّٰہ تعالٰی به د هغه ۱۰۰ حاجتونه پوره کوي، ۷۰ د آخِرت او ۳۰ د دُنیا او اللّٰہ تعالٰی به یوه فرښته مقرره کړي چه هغه به هغه درود شریف زما قبر ته داسې رارسوي څنګه چه تاسو ته تُحفې وړاندې کیږي، بیشکه زما عِلم به زما د (د ظاهري) وفات نه پس هُم هغسې وي څنګه چه زما په (ظاهري) ژوند کښې دې.“ (جَمعُ الجَوامِع لِلسُّیُوطی ج۷ ص۱۹۹ حدیث۲۲۳۵۵)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## وِلادَتِ باسعادت

د سلسلۂ عالیه نقشبندیه عظیم پیشوا حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني شیخ اَحمد سرهِندي فاروقي نقشبندي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د هِند په مُقام

”سَرهِند“ كښې په ۹۷۱ھ/۱۵۶۳ء كښې پيدا شو. (زُبْدَۃُالمَقامات ص۱۲۷ماخوذاً)
د هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ نوم: اَحمد، كُنيت: ابو البركات او لقب: بدرُ الدِّين دې. هغوئي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ د **اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ** سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ د اولاد نه دې.

## د قَلعې تعمير او د پينځم جَدِّ اَمجَد بَرَكت (حِكايت)

د **حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ پينځم جَدِّ اَمجد [يعني د پينځمې پيړۍ نيكه صاحب] **حضرتِ** سَيِّدُنا امام رفيع الدِّين فاروقي سُهروردي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ د **حضرتِ** سَيِّدُنا مَخدُوم جهانيان جهان گشت سيِّد جَلالُ الدِّين بُخاري سُهروردي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ (چه په ۷۸۵ھ كښې وفات شوې وو، د دوئي) خليفه وو. چه كله دې دواړو حَضَراتو هِند ته تشريف راوړو او د سَرهِند شريف نه ”موضع سرائس“ ته را اورسيدل نو د هغه ځائ خلقو ورته درخواست اوكړو چه د ”موضع سرائس“ او ”سامانه“ د مينځه لار خطرناكه ده، په ځنګل كښې سرې خواره ځناوران دي، تاسو د وخت بادشاه فيروز شاه تُغلق ته د دې دواړو د مينځه د يو ښار آبادولو اوفرمائې چه خلقو ته آساني شي. چنانچه د حضرتِ سَيِّدُنا شيخ امام رفيع الدِّين سُهروردي رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ مشر ورور خواجه فتحُ الله رَحمَۃُاللہِتَعَالٰی عَلَیْہ د سلطان فيروز شاه تُغلق په حُكم باندې د يوې قلعې تعمير شروع كړو، خو عجيبه حادِثه پيښه شوه ځكه

چه په یوه ورځ کښې به څومره قلعه تعیر کړې شوه بله ورځ به هغه تړوله غورزیدله، حضرتِ سَیِّدُنا مَخدُوم جَلالُ الدِّین بُخاري سُهروردي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته چه د دې حادثې خبر اوشو نو هغوئي اِمام رفِیعُ الدِّین سُهروردي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته اولیکل چه تاسو پخپله لاړ شئ او د قلعې بُنیاد کیږدئ او په هُم هغه ښار کښې سُکُونت (یعني مُستقل اوسیدل) اختیار کړئ، چنانچه هغوئي تشریف راوړو قلعه ئې تعمیر کړه او بیا ئې هُم هلته سُکُونَت اختیار کړو. د **حضرتِ** سَیِّدُنا **مُجَدِّدِ** اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه پیدائش مبارك په هُم هغه ښار کښې اوشو. (زُبدةُالمَقامات ص۸۹ مُلَخَّصاً)

## د والِدِ ماجِد مُقام

د **حضرتِ** سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه والِدِ ماجِد **حضرتِ** سَیِّدُنا شیخ عبدُ الاَحَد فاروقي چشتي قادري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه جَیِّد عالِمِ دِین او ولِيِّ کامِل وو. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د اِکتِسابِ فیض [یعني برکت حاصلولو] د پاره د حضرتِ شیخ عبدُ القُدُّوس **چِشتي** صابِري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه (وفات ۹٤٤ھ/ ۱۵۳۷ء) په خِدمت کښې حاضر شو، په آستانه مبارکه کښې ئې د اوسیدلو اراده اوکړه خو حضرتِ شیخ عبدُ القُدُّوس **چِشتي** صابِري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه ورته اوفرمائیل چه: "د عُلُومِ دینیه د پوره کولو نه پس راشئ." حضرتِ سَیِّدُنا شیخ عبدُ الاَحَد فاروقي **چِشتي** قادري رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه چه د عِلم حاصلولو نه پس حاضِر شو نو حضرتِ شیخ

عبدُ القُدُّوس چِشتي صابِري رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ وفات شوې وو او د هغوئي فرزند شيخ رُكنُ الدِّين چِشتي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ (وفات ۹۸۳ھ/۱۵۷۵ء) په مَسنِدِ خِلافت باندې تشريف فرما وو. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ حضرتِ شيخ عبدُ الاَحَد فاروقي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ته په سلسلۂ قادِرِيَّه او چِشتِيه كښې د خِلافت شرف وركړو او په فصيح او بَلِيغ عَرَبئ كښې ئې اِجازت نامه وركړه. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ډيره موده په سفر كښې تيره كړه او د ډيرو معرفت يافته صاحبانو سره ئې ملاقاتونه اوكړل، آخر دا چه سَرهِند ته ئې تشريف راوړو او د آخري عُمر پورې هُم هلته اوسيدلو او د اسلامي كتابونو درس ئې وركولو. په فِقه او اُصول كښې بې مثاله وو، د صُوفيائے كِرامو د كتابونو: **تَعَرُّف، عَوارِفُ الْمَعارِف** او **فُصُوصُ الحِكَم** درس ئې هُم وركولو، ډيرو مشائِخو د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ نه اِستِفاده اوكړه (يعني فائده حاصله كړه). ”سكندرے“ ته نزدې د ”اتاوے“ په يوه نيكه كورنئ كښې د هغوئي نكاح اوشوه. د اِمامِ رَبَّاني والِدِ محترم شيخ عبدُ الاَحَد فاروقي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ۸۰ كالو په عُمر كښې په ۱۰۰۷ھ/۱۵۹۸ء كښې وفات شو. د هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ مزار مبارك د سرهِند شريف د ښار مغربي طرف ته واقع دې. هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ډير كتابونه تصنيف كړي [يعني ليكلي] دي چه په هغې كښې **كُنُوزُ الْحَقَائِق** او **اَسْرَارُ التَّشَهُّد** هُم شامل دي.

(سيرتِ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني ص ۷۷ تا ۷۹ مُلَخَّصاً)

د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

# تعليم و تربِيَّت

**حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّد** اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د خپل والِد **مُحترم** شيخ عبدُ الاَحَد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه ډير عُلوم حاصل کړل. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته د فرائضو سره سره د نوافِلو **محبَّت** هُم د خپل والِد **مُحترم** رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه حاصل شوې وو، چنانچه فرمائي: ”دې فقير ته د عِبادتِ نافِله خُصُوصاً د نفل نمونځونو توفيق د خپل والِد **مُحترم** نه حاصل شوې دې.“ (مَبدا و معاد ص٦) د والِد **محترم** نه علاوه ئې د نورو اَساتِذه [يعني اُستاذانو] نه هُم اِستِفاده (يعني فائده حاصله) کړې ده، مَثَلًا د مولانا کمال کشميري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه ئې ځينې مشکِل کتابونه لوستلي دي، د حضرت مولانا شيخ محمد يعقوب صَرفي کشميري رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه ئې د حديث کتابونه لوستلي او سَنَد ئې ترې حاصل کړې دې. د حضرت قاضي بَهلول بدخشي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه ئې د قَصِيدۂ بُرده شريف سره سره د تفسير او حديث ډير کتابونه لوستلي دي. **حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّد** اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيْه د ١٧ کالو په عُمر کښې د عُلُومِ ظاهِري نه سَنَدِ فراغت حاصل کړو. (حَضَراتُ القُدس، دفتر دُوُم ص٣٢)

## جاهِل صوفي د شيطان مَسخره

د **حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّد** اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د تدرِيس انداز ډېر زيات زړه راښکونکې وو. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به د **تفسِيرِ بَيضاوي، بُخاري شريف، مِشکوٰة شريف، هِدايه** او **شرحِ مُواقِف** وغيره کتابونو تدرِيس کولو. د اسباقو لوستلو سره سره به ئي طَلَبه ته د ظاهري او باطِني اِصلاح مَدَني گُلونه هُم ورکول. د عِلمِ دِين د فائدو او د هغې د حاصلولو د جذبې بيدارولو د پاره به ئي د عِلم او عُلَماء اهميت هُم بيانولو. چه کله به ئي په کوم يو طالبِ عِلم کښې کمي يا سستي ليدله نو په اَحسَن (يعني ډېر ښه) انداز به ئي د هغه اِصلاح کوله چنانچه حضرت بدرُ الدِّين سرهِندي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: "ما د ځلمي توب په وخت کښې اکثر د غلَبۀ حال په وجه د سبق لوستلو شوق نه لرلو نو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه به په کمال مهربانۍ فرمائيل: سبق راوړه او اولوله، ولې چه جاهِل صوفي خو د شيطان مسخره [يعني فضول ټوقې کوونکې] وي." (ايضاً ص۸۹ مُلَخَّصاً)

## ځوئ داسې وي

**حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّد** اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د عِلم حاصلولو نه پس آگره (اَلهِند) ته تشريف راوړو او د درس وتدرِيس سلسله ئي شروع کړه، د خپل وخت غټ غټ فاضِل (يعني عُلَمائے کرام) به د هغوئي رَحْمَةُ

اللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه په دربار کښې حاضریدل او د عِلم او حِکمت د چینې نه به ئې ځان مړولو. چه کله ئې په ''آګره'' کښې ډیره موده اوشوه نو والِد صاحب رَحۡمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه ئې د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه په یاد کښې ډیر زیات بې قراره شو، چنانچه والِد صاحب رَحۡمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه ئې اوکړو او آګره ته ئې تشریف راوړو او د خپل ګران ځوئ په دِیدار ئې سترګې یخې کړې، د آګره یو عالِم صاحب چه د هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَيْه نه د داسې ناڅاپه راتلو د سبب تپوس اوکړو نو اوئې فرمائیل: د شیخ اَحمد (سرهِندي) د ملاقات د شوق په وجه دلته راغلم، ولې چه د بعضې مجبورو په وجه د دوئي د پاره زما خوا ته راتلل مشکل وو ځکه زه راغلم. (زُبدۃُ المَقامات ص۱۳۳ مُلَخَّصاً)

## پلار ورته اوګوري، د اولاد ثواب اوشي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** فرمانبردار او نیك اولاد د سترګو تور او د زړه سکون وي. خنګه چه مور او پلار ته د محبَّت په نظر کتلو سره د اولاد د یو مقبول حج ثواب کیږي، هُم دغسې کوم اولاد ته په کتلو چه د مور او پلار سترګې یخې شي، د داسې اولاد د پاره هُم د غُلام د آزادولو د ثواب زیرې دې چنانچه **فرمانِ مصطفیٰ** صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دې: ''چه کله پلار خپل ځوئ ته یو نظر اوګوري نو ځوئ ته د یو غُلام آزادولو ثواب حاصلیږي.'' په بارګاهِ رِسالت کښې عرض

اوکړې شو: اګرکه پلار ورته درې سوه او شپيته (۳۶۰) ځله اُوګوري؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: **اللّٰه** تعالیٰ لوئ دې." (مُعْجَمُ کَبِیْرج۱۱ص۱۹۱ حديث۱۱۶۰۸) يعني هغه ته د هر څه قدرت حاصل دې، د دې نه پاك دې چه هغه ته د دې نه عاجِز اووئيل شي.

حضرتِ علّامه عبدُالرّءُوف مُناوي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ فرمائي: مُراد دا دې چه کله اَصلْ (يعني پلار) په خپل فَرْع (يعني ځوئ) باندې نظر واچوي او هغه د **اللّٰه** تعالیٰ په فرمانبردارئ کولو اُووِيني نو ځوئ ته د يو غُلام آزادولو په مِثل ثواب حاصليږي. د دې يوه وجه دا ده چه ځوئ خپل **رَب** تعالیٰ هُم راضي کړو او د پلار سترګې ئې هُم يخې کړې ځکه چه پلار هغه د **اللّٰه** تعالیٰ په فرمانبردارئ کولو ليدلې دې. (اَلتَّيسِير ج۱ ص۱۳۱)

## د مُجَدِّد اَلفِ ثاني صورت

د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ رنګ سپين غنم رنګې وو، فراخه تندې، او مخ مبارك ئې ډير نُوراني وو. ورُوځې ئې اوګدې، تورې او نرئ وې. سترګې ئې غټې او پوزه مبارکه ئې نرئ او اُوچته وه، شونډې مبارکې ئې سرې او نرئ وې، غاښونه ئې د مرو [د لړئ په شان] د يو بل سره لګيدلي او چمکدار وو. رِيش (يعني ګِيره) مُبارکه ئې ښه ګڼړه، اوګده او مُرَبَّع (يعني څلور کوټې) وه. د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ وَنه [يعني قَد] اوچت او نازك بدن وو. د هغوئي په بدن به مَچ نه کښيناستلو. د ښپو پوندې

ئي صفا او چمكدارېږي وي. هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ داسي نفِيس (يعني صفا سُتره ) وو چه د خولې نه به ئي خراب بوئي نه راتلو.

(حَضَراتُ القُدْس، دفتر دُوُم ص۱۷۱ مُلَخَّصاً)

## سُنَّتِ نِكاح

د **حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ والِدِ مُحترم حضرتِ شيخ عبدُ الاَحد فاروقي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ چه كله هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ د ځان سره سَرهِند ته بوتلو نو په لاره كښې چه كله تهانَيسَر ته اورسيدل نو د هغه ځائ د رئيس شيخ سُلطان د لُور سره ئي د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ سُنَّتِ نكاح اوتړله.

## مُجَدِّد اَلفِ ثاني حَنَفِي دې

**حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام رَبّاني، مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ د سِراجُ الاَئِمَّه **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام اعظم ابو حَنِيفه نُعمان بِن ثابِت رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ د مُقَلِّد كيدو په سبب حَنَفِي وو. هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ د سَيِّدُنا اِمام اعظم ابُو حَنِيفه رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ سره بې اِنتِها عقِيدت او مَحَبَّت لرلو. چنانچه

## شانِ اِمام اعظم بزبانِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني

د **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام اعظم ابُو حَنِيفه رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیْہ په شان كښې فرمائي: د بزرګانو د بزرګ ترين اِمام، اِمامِ اَجَلّ، پيشوائے اَكمَل اَبُو

حَنِيفه رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د اوچت شان مُتَعَلِّق زه څه اوليکم. هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه په تمامو اَئِمَّهٔ مُجْتَهِدِين رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰى کښې اکثرکه هغه اِمام شافِعِي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وي، که اِمام مالِك رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وي او که اِمام اَحمد بِن حَنبل رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه وي په هغه ټولو کښې د ټولو نه غټ عالِم او د ټولو نه زيات د وَرَع او تقویٰ والا وو. اِمام شافِعِي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه فرمائي:

'اَلفُقَهَاءُ كُلُّهُم عِيَالُ اَبِيْ حَنِيْفَةَ' يعني تمام فُقَها د اِمام ابو حنيفه عيال دي." (مَبْدا و مَعاد ص۴۹ مُلَخَّصاً)

## اجازت او خِلافت

حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ته د طريقت په مختلفو سلسلو کښې اجازت او خِلافت حاصل وو: ﴿۱﴾ سلسلهٔ سُهروردِيَّه کُبْرَوِيّه کښې ئې د خپل اُستاذِ مُحترم حضرتِ شيخ يعقوب کشميري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه اجازت او خِلافت حاصل کړې وو ﴿۲﴾ په سلسلهٔ چِشتيه قادِرِيَّه کښې ئې د خپل والِدِ مُحترم حضرتِ شيخ عبدُ الاَحد فاروقي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه اجازت او خِلافت حاصل کړې وو ﴿۳﴾ په سلسلهٔ قادِرِيَّه کيتهلي کښې ئې (د مضافاتِ سرهِند) د بزرګ حضرتِ شاه سکندر قادري رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه اجازت او خِلافت حاصل کړې وو ﴿۴﴾ په سلسلهٔ نقشبَندِيه کښې ئې د حضرت خواجه محمَّد باقي بِالله نقشبَندِي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه نه اجازت او خِلافت حاصل کړې وو (سيرتِ مُجَدِّد

اَلفِ ثاني ص۹۱) حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په درېږ سلسلو کښې د فيض حاصلولو تذکِره داسې فرمائيلې ده: ”ما ته د ډېرو واسِطو په ذريعه د نبيِّ کريم صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرادت حاصل دې. په سلسلۂ نقشبنديه کښې د ۲۱، په سلسلۂ قادِرِيَّه کښې د ۲۵ او په سلسلۂ چِشتِيه کښې د ۲۷ واسطو په ذريعه.“ (مکتوباتِ اِمامِ رَبّانی، دفترِ سوم، حِصّه نهم، مکتوب ۸۷ ج۲ ص۲۶)

## د پير و مُرشِد ادب او اِحترام (حِکايت)

**حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه به د خپل پير و مُرشِد حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه بيحده ادب او احترام کولو او حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه به هُم هغوئي ته ډېر د قدر او منزِلت په نظر کتلو. چنانچه يوه ورځ حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په حُجره شريفه کښې په تخت باندې آرام کولو چه حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د نورو درويشانو په شان بالکل يواځې تشريف راوړو، چه کله دوئي د حُجرې دروازې ته اورسيدلو نو خادِمِ حضرت مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه رابيدارول غوښتل خو هغوئي [يعني حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي] رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په سختئ سره منع کړو او د کوټې نه بهر ئې د هغوئي د رابيداريدلو انتظار کولو. لږ ساعت پس د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه سترګې اوغړيدلې، باهر ئې چه د ښکالو

آواز واوریدو نو غږ ئې اوکړو چه څوك دې؟ حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه اوفرمائیل: فقیر، محمد باقي یم. هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه چه څنګه آواز واوریدو نو د تخت نه ډیر په بې قرارئ (یعني زر زر) راپاڅیدلو او بهر ته راغلو او په ډیره زیاته عاجزئ د پیر صاحب مخې ته په ادب کښیناستلو. (زُبدةُ المَقامات ص۱۵۳ مُلَخَّصاً)

## مزار شریف ته حاضري

حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه په مرکزُ الاولیاء لاهور کښې وو چه په ۲۵ جُمادَی الْاُخْرٰی ۱۰۱۲ھ د هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه د پیر و مُرشِد حضرتِ سَیِّدُنا خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه په دهلي کښې وِصال [یعني وفات] اوشو. دا خبر چه څنګه ور اورسیدو نو هغوئي فوراً دهلي ته روان شو. دهلي ته چه اورسیدلو نو د مزار مبارك زیارت ئې اوکړو او د فاتِحه خوانئ او د هغوئي کورنئ ته د تَعزِیَّت کولو نه چه فارِغ شو نو بیا ئې سَرهِند ته تشریف راوړو. (ایضاًص۳۲، ۱۵۹ مُلَخَّصاً)

## د نیکئ د دعوت آغاز [یعني شروع]

هسې خو حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه په آګره کښې د اوسیدو د زمانې نه مخکښې د نیکئ دعوت شروع کړې وو خو په ۱۰۰۸ھ کښې د حضرت خواجه محمَّد باقي بِاللّٰه نقشبندي رَحْمَةُاللّٰهِ‌تَعَالٰی‌عَلَیْه نه د بَیعَت کولو [یعني د مُرید جوړیدو] نه پس ئې باقاعده کار شروع

کړو. د عهدِ اکبري په آخري کلونو کښې په مرکزُ الاولیاء لاهور او سرهِند شریف کښې په خاموشۍ او بهترین تدبیر په خپل کار کښې مصروف اوسیدو، هغه دَوَر کښې عَلانِیه [یعني په ښکاره] کوشش کول خپل مرګ ته دعوت ورکول وو. د جابِر او ظالِم حکومت په دَوَر کښې په خاموشۍ سره کار کول هُم د خطرې نه خالي نه وو خو حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې خطرې باوجود خپل کوششونه جاري اوساتل او د حُضُورِ انور صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مَکِّي ژوند د شروع دَور ئې پیشِ نظر [یعني په نظر کښې] ساتلې وو. چه کله دَورِ جهانګیري شروع شو نو مَدَني ژوند ئې پیش نظر ساتلو او عَلانِیه یعني ښکاره کوشش ئې شروع کړو. **حضرتِ** سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د نیکۍ د دعوت او د خلقو د اصلاح د پاره مختلفې ذریعې استعمال کړې. هغوئې رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په سُنَّتِ نَبَوِي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د عمل کولو د پاره د خپلو مُرِیدانو، خُلَفاء او مکتوباتو [یعني خطونو] په ذریعه دا تحریک مخ په وړاندې کړو. (سیرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني ص ١٥٧، مُلَخَّصاً)

## د اِمام غزالي ګستاخه ئې اورتو(حِکایت)

یو ځل یو کس د **حضرتِ** سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په مخکښې د فَلاسِفه صِفَت شروع کړو، د هغه انداز داسې وو چه په هغې کښې د عُلَمائے کرام رَحِمَهُمُ اللهُ تَعَالٰی توهِین [یعني بې اَدَبي] لازِمه راتله،

هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د هغه د پوهه کولو د پاره د فَلاسِفه په رَد کښې د اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه فرمان بيان کړو نو هغه کس خُله ورانه کړه او اوئې وئيل چه غزالي نامعقوله خبره کړې ده، مَعاذَ الله عَزَّوَجَلَّ. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه چه د اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه په شان کښې دا ګُستاخانه جُمله واوريده نو په جَلال [يعني غُصَّه] کښې راغلو! د هغه ځائ نه فوراً پاڅيدلو او هغه کس ته ئې د رټلو په انداز کښې اوفرمائيل چه: که د اَهلِ عِلم د صُحبت شوق لرې نو داسې د بې اَدَبئ د خبرو نه خپله ژبه بنده ساته." (زُبدةُ المَقامات ص ۱۳۱)

## د ګُستاخ عِبرتناك اَنجام (حِکايت)

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** د هر مسلمان تحقِير [يعني سپك ګنړل] د دُنيا او آخِرت دواړو د پاره د نقصان باعث دې خو د بزرګانِ دِين د ګُستاخئ سزا کله کله په دُنيا کښې هُم ورکوله شي د پاره د دې چه داسې کس د خلقو د پاره د عِبرت نښه جوړه شي. چنانچه **حضرتِ** سَيِّدُنا تاجُ الدِّين عبدُ الوَهَّاب بِن علي سُبکي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: يو فَقِيه (يعني عالِمِ دِين) ما ته اووئيل چه يو کس د فِقه شافِعي په درس کښې **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه پورې بد رد اووئيل، زه په هغې ډير غمژن شوم، د شپې د هُم هغه غم په حالت کښې اُوده شوم. په خوب کښې مې **حضرتِ** سَيِّدُنا اِمام محمّد بِن محمّد

غزالي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه اوليدلو، ما د هغه بد رد وئيلو والا کس تذکِره اوکړه نو هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه ارشاد اوفرمائيلو: ''فِکر مه کوه، هغه به صبا مړ شي.'' سحر چه زه د درس حلقې ته ورغلم نو هغه کس مې ښه صحيح سلامت اوليدو خو چه د هغه ځائ نه اووتو نو د کور په لاره کښې د سوَرلئ نه غوزار شو او زخمي شو او د نمر پريوتو نه مخکښې مخکښې مړ شو. (اِتحَافُ السَّادَة لِلزّبيدی ج۱ ص۱۴)

## شوقِ تِلاوت

**حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه به په سفر کښې هُم د قُرآنِ مجيد تِلاوت کولو، اکثر به ئې درې درې او خلور خلور سيپارې هُم پوره کړې. په دې دوران کښې به چه آيتِ سَجده راغې نو د سورلئ نه به کُوز شو او سَجدهٔ تِلاوت به ئې اوکړه. (زُبدةُ المَقامات ص۲۰۷ مُلَخَّصاً)

## په سُنَّت د عمل کولو اِنعام (حِکايت)

**حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه به د نورو معاملاتو په شان په اُوده کيدو او پاځيدو کښې هُم د سُنَّت خيال ساتلو. يوه ورځ د رَمَضَانُ الْمُبَارَك په آخري عَشَره کښې د تراوِيح نه پس د آرام کولو د پاره په بې خيالئ کښې په ګڅه ډډه څملاستلو، په دې کښې ورله خادِم ښپې زور کول شروع کړل. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰىعَلَيْه ته يو دم خيال ورغلو چه په ښئ ډډه د څملاستلو سُنَّت را نه پاتې شُو. نفس ورته د

سستئ مشوره ورکړه چه که په هيره داسې اوشي نو هيڅ خبره نه ده خو هغوئي پاخيدلو او بيا په ښئ ډډه څملاستلو. هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيْه فرمائي: چه ما ښکله په دې سُنَّت باندې عمل اوکړو نو په ما باندې د عِناياتو، بَرَکاتو او د سلسلې انوار ظاهر شو او آواز راغې چه: "په سُنَّت باندې د عمل کولو په وجه به تا ته په آخرت کښې د هيڅ قِسم عذاب نه درکولې کيږي، او ستا د ښپو زور کولو والا خادِم بخښنه هُم اوکړې شوه." (ايضاً ص۱۸۰ مُلَخَّصاً)

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! تاسو اوليده چه په سُنَّت باندې د عمل کولو ښکله برکتونه دي، که مونږه هُم د سُنَّت مطابق د اُوده کيدو عادت جوړ کړو نو اِنْ شَآءَاللّٰه تعالٰی د دې برکتونه به رانصيب شي. دا هُم معلومه شوه چه د نيکو خلقو خِدمت کول هُم د ډير غټې سعادت باعث وي.

## د اُوده کيدو او رابيداريدو پينځه مَدَني ګلونه

۞ د اُوده کيدو نه مخکښې دا دعا اولولئ: اَللّٰهُمَّ بِاسْمِكَ اَمُوْتُ وَ اَحْيٰى ط تَرجَمَه: اے الله جَلَّ جَلَالُهٗ هُم ستا د نامې سره مړ کيږم او ژوندې کيږم (يعني اُوده کيږم او رابيداريږم) (صَحِيْحُ الْبُخَارِی ج٤ ص١٩٦ حديث ٦٣٢٥) ۞ سُنَّت دا دې چه د قُطب ستورې (يعني شِمال) طرف ته سر کړې او په ښئ ډډه څملې، چه په اُودو ئې مخ کعبې ته وي." (فَتَاوٰیٰ رَضَوِيَّه، ج٢٣

،ص۳۸۵) په دُنيا کښې هر ځاۍ د قطب ستورې د شِمال طرف ته نه وي، لِهٰذا چه د دُنيا په هره حِصَّه کښې اوده کيږئ او سر او ښپې مو که هر طرف ته وي خو "په ښئ ډډه داسې څملئ چه مخ مو قبلې ته وي" نو سُنَّت به ادا شي ۞ د رابيداريدو نه پس دا دُعا لولئ: اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِیْ اَحْيَانَا بَعْدَ مَا اَمَاتَنَا وَ اِلَيْهِ النُّشُوْرُ ط ترجَمَه: ټول ثنا صِفت د الله د پاره دي چا چه مونږه د مړ کولو نه پس ژوندي کړو او هُم د هغه په طرف بيرته ګرځيدل دي. (صَحِيْحُ الْبُخارِی ج٤ ص١٩٦ حديث ٦٣٢٥) بهارِ شريعت جِلد٣ صفحه ٤٣٦ کښې دي: (د خوبه چه څنګه بيدار شي نو) هُم هغه وخت دِ پخه اِراده اوکړي چه پرهيزګاري او تقوىٰ به کووم، د چا زړه به نه ازارووم ۞ د خوبه چه رابيدار شئ نو مِسواك کوئ ۞ د شپې چه د خوبه رابيدار شئ نو تَهَجُّد ادا کوئ ځکه چه دا غټ سعادت دې. سَيِّدُ الْمُرسَلِين، رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلي دي چه: د فرضو نه پس غوره نمونځ د شپې نمونځ دې." (صحيح مُسلِم ص٥٩١ حديث ١١٦٣)

## د بخښني زيري

حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه يو ځل د تحدِيثِ نعمت [يعني د نعمت د بيانولو د نِيَّت] په طور اوفرمائيل: يوه ورځ زه د خپلو ملګرو سره ناست ووم او د خپلو کمزورېانو په باره کښې مې غور او

فِکر کولو، د عاجزئ او انکسارئ راباندې غَلَبه وه، په هُم دغه دوران کښې په مطابق د دې حدیث: "مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ يعني څوك چه د الله تعالیٰ د پاره عاجزي کوي، الله تعالیٰ هغه ته اوچتوالې ورکوي." (شُعَبُ الإِيمان ج٦ ص٢٧٦ حديث٨١٤٠) د رب تعالیٰ له طرفه خِطاب اوشو: " غَفَرْتُ لَكَ وَلِمَنْ تَوَسَّلَ بِكَ بِوَاسِطَةٍ اَوْ بِغَيْرِ وَاسِطَةٍ اِلٰی يَوْمِ الْقِيَامَة يعني ما ته اوبخښلې او د قیامته پورې پیدا کیدو والا هغه ټول خلق مې هُم اوبخښل کوم چه ستا په واسِطه یا بې واسطې ما ته را اورسي." د هغې نه پس ما ته حُکم اوشو چه زه دا بِشارت [یعني زیرې] ښکاره کړم. (حَضَراتُ القُدُس، دفتر دُوُم ص١٠٤ مُلَخَّصاً)

## د ثواب تُحفه (حِکایت)

د حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه د سفر او حِضر [یعني د کور] خادِم حضرتِ حاجي حبیب احمد رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په "اَجمیر شریف" کښې د اوسیدو په دوران کښې ما یوه ورځ اویا زره ځله کَلِمه طَیِّبه اولوستله او د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې حاضِر شوم او عرض مې اوکړو چه: ما اویا زره ځله کَلِمه شریفه لوستلې ده د هغې ثواب تاسو ته نظر کووم [یعني بخښم]. هغوئي رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه فوراً لاسونه پورته کړل او دُعا ئې اوکړه. صبا له ئې اوفرمائیل: پرون چه ما دُعا کوله نو ما اولیدو چه د فرښتو

فوج د هغه كَلِمۀ طَيِّبه ثواب راخستي دي او د آسمان نه را كوزيږي، هغوئي په دومره كَنړ شمير كښ وي چه په زمكه باندې د ښپې ايښودو ځائ پاتې نه شو! هغوئي رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيْه نور اوفرمائيل: د دې ختم ثواب زما د پاره ډير زيات فائده مند ثابت شو. د هُم دې حاجي [حبيب احمد] صاحب رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيْه بيان دې: حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللّٰهِتَعَالٰى عَلَيْه ما ته اوفرمائيل: ما چه څه اووئيل په دې باندې حيرانيږه مه، زه خپل حال هُم تا ته بيانووم: ما به هره ورځ د تَهَجُّد نه پس پينځه سوه څله كَلِمۀ طَيِّبه لوستله او خپلو مرحُومو بچو محمّد عيسىٰ، محمّد فَرُّخ او لُور اُمِّ كُلثُوم ته به مې اِيصالِ ثواب كوله [يعني ثواب به مې وربخښلو] . هره شپه به د هغوئي رُوحُونو د كَلِمۀ طَيِّبه د ختم د پاره آماده كولم [يعني مُتَوَجِّه كولم]. تر څو به چه ما د تَهَجُّد ادا كولو نه پس د كَلِمۀ طَيِّبه ختم نه وو كړې تر هغې به هغه رُوحونه زما نه داسې چاپيره تاويدل څنګه چه ماشومان د ډوډۍ [غوښتلو] د پاره د خپلې مور نه تر هغې پورې تاويږي تر څو چه هغوئي ته ډوډۍ ورنكړي. چه كله به ورته ما كَلِمۀ طَيِّبه ايصالِ ثواب كړه نو هغه رُوحُونه به بيرته لاړل. خو اوس هغوئي د ثواب د كثرت په وجه معمور [يعني د ثواب نه ډك شوي] دي او اوس هغوئي نه راځي. (ايضاً ص٩٥ مُلَخَّصاً)

## د حِکايت نه حاصليدو والا مَدَني ګلونه

❁ ژوندو ته هُم اِيصالِ ثواب کيدې شي ❁ مړي د خپلو عزيزانو او خپلوانو او دوستانو د طرف نه د اِيصالِ ثواب په انتِظار کښې اوسي ❁ مړو ته ثواب رسي او هغوئي په ثواب موندلو خوشحاليږي ❁ اِيصالِ ثواب کول د اولياءِ کِرام طريقه هُم ده.

## د زرو دانو والا تَسبِيح

حضرتِ حاجي حبيب احمد رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: په کومه ورځ چه ما **حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّدِ** اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه ته د کَلِمۂ طَيِّبه ثواب اوبخښلو نو د هُم هغه ورځې نه هغوئي رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د ځان د پاره د زرو دانو والا تسبيح جوړې کړې او په تنهائي [يعني يواځې ځائ] کښې به ئي په هغې د کَلِمۂ طَيِّبه ذِکر کولو. د **جُمُعې** په شپه به ئي خاص طور د مُرِيدانو سره په هُم هغه تسبِيح باندې د زر ځله دُرُود شريف وظيفه کوله. (حَضَراتُ القُدُس، دفتر دُوُم ص۹٦)

## د بـي بـي عائشه د اِيصالِ ثواب حِکايت

امامِ رَبّاني حضرتِ **مُجَدِّدِ** اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائی: **مخکښې** به چه ما کله طعام **پخولو** [يعني خيرات کولو] نو د هغې ثواب به مې خاص د حُضُورِ انور صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د **اَمِيۡرُ الۡمُؤۡمِنِين** حضرتِ سَيِّدُنا **عَلِيُّ الۡمُرۡتَضٰى** شيرِ خُدا كَرَّمَ اللّٰهُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الۡكَرِيۡم او د حضرتِ خاتُونِ جَنَّت

فاطِمَةُ الزَّهرا او د حضراتِ حَسَنَينِ كرِيمَين رَضِيَ اللهُ تعَالٰی عَنهُم اَرواحِ مُقَدَّسه ته اِيصالِ ثواب كولو. يوه شپه مې خوب اوليدو چه جنابِ رِسالت مآب صَلَّی اللهُ تعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف فرما [يعني يو ځائ كښې موجود] دې. ما د هغوئي صَلَّی اللهُ تعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خِدمتِ بابَرَكت كښې سلام عرض كړو نو هغوئي صَلَّی اللهُ تعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زما طرف ته مُتَوَجّه نه شو او مخ مبارك ئې بل طرف ته واړولو او ما ته ئې اُوفرمائيل: "زه د **عائشه** په كور كښې طعام خورم، څوك چه ما ته طعام راليږي هغه دِ ئې د (حضرتِ **عائِشه** كور ته راليږي." دغه وخت زه پوهه شوم چه د هغوئي صَلَّی اللهُ تعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د توجّه نه فرمائيلو سبب دا وو چه ما به اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تعَالٰی عَنهَا په طعام (يعني اِيصالِ ثواب) كښې نه شريكه كوله. د هغې نه پس زه حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِيَ اللهُ تعَالٰی عَنهَا بلكه ټولې اُمَّهَاتُ المُؤمِنِين رَضِيَ اللهُ تعَالٰی عَنهُنَّ بلكه ټول اَهلِ بَيت [په ايصالِ ثواب كښې] شريك كووم او ټول اَهلِ بَيت د ځان د پاره وسيله جوړووم. (مكتوباتِ اِمام رَبّانى، دفتر دُوُم حِصّه ششم، مكتوب ٣٦، ج٣، ص٨٥)

د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللهُ تعَالٰی عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## په ټولو ښځو كښې د ټولو نه ګرانه بـي بـي عائشه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د دې حِكايت نه معلومه شوه چه چا

ته ايصالِ ثواب كيږي هغوئي ته رسيږي هُم، د اهُم معلومه شوه چه ايصالِ ثواب محدودو [يعني د يو حده پورې] بزرګانو ته د کولو په ځائ تولو ته کول پکار دي. مونږ چه څومره کسانو ته هُم ايصالِ ثواب اوکړو تولو ته به برابر برابر [يعني هر يو ته به پوره پوره] ثواب رسيږي او زمونږه په ثواب کښې به هُم څه کمې نه راځي.[1] دا هُم معلومه شوه چه زمونږه آقا صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمُّ المُؤمِنِين حضرتِ سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا سره بې حَده اُنسِيَت [يعني محبَّت] لرې. د "بُخاري" شريف رِوايت دې چه، **حضرتِ** سَيِّدُنا عمرو بن عاص رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ چه کله د "غزوۂ سَلاسِل" نه بيرته راغلو نو هغوئي عرض اوکړو چه: يَارَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو ته په تولو خلقو کښې زيات محبوب [يعني ګران] څوک دې؟ اوئې فرمائيل: (په ښځو کښې) عائشه. هغوئي بيا عرض اوکړو چه: په سړو کښې؟ اوئې فرمائيل: د هغې پلار (يعني حضرتِ سَيِّدُنا ابُوبکر صِدِّيق رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ). (صَحِيحُ الْبُخارى ج٢ ص٥١٩ حديث ٣٦٦٢)

بنتِ صدّيق آرامِ جانِ نبي
اُس حريمِ بَراءَت پہ لاکھوں سلام

يعني ہے سورۂ نُور جن کی گواہ
اُن کی پُر نُور صورت پہ لاکھوں سلام

(حدائق بخشش شريف ص ٣١١)

[1] د نورو معلوماتو حاصلولو د پاره د مَکْتَبَةُ المَدِينه رِساله "فاتِحه او د ثواب بخښلو طريقه" هديَّةً حاصله کړئ او اولولئ.

بِنتِ صِدِّیق د زړه سکون د نبي　　په هغه پاکه بي بي باندې ډېر سلام
د پاکۍ د چا چه سُورَۃِ نُور دي ګواه　　په هغه صُورتِ نُوراني باندې ډېر سلام
(حدائق بخشش شریف ص۳۱۱)

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـیْـب!　　صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## یو ولي بل ولي پېژني (حِکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه چه په کومو ورځو کښې په مرکزُ الاولیاء لاهور کښې اوسېدلو، په هغه دوران کښې یو سبزۍ خرڅولو والا د هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه په دربار کښې حاضر شو. هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د هغه د تعظِیم [یعني ادب] د پاره پاڅېدلو. د هغه د تللو نه پس چا عرض اوکړو چه هغه خو سبزي خرڅولو والا وو! (یعني د هغه داسې تعظیم ولې؟). ارشاد ئې اوفرمائیلو: هغه اَبدال (یعني وَلِیُّ الله) دې، د ځان پټولو د پاره ئې دا پېشه اختیار کړې ده. (حَضَراتُ القُدُس، دفتر دُوُم ص۹۸)

## د ”سرهِند شریف“ د نهه حُروفو په نِسبت ۹ کرامات

## ﴿۱﴾ په یو وخت کښې لسو کورونو ته تشریف وړل (حِکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني شیخ اَحمد سرهِندي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه ته لسو مُریدانو په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې تولو په یوه ورځ د روژه ماتي دعوت ورکړو، هغوئي رَحۡمَۃُاللّٰہِتَعَالٰی عَلَیۡه د تولو دعوت قبول کړو، چه کله د

نمر پريوتو وخت شو نو په يو وخت کښې ئې د ټولو خوا ته تشريف يوړو او د هغوئي سره ئې روژه ماتې اوکړو. (جامع کرامات الاولیاء للنبهانی ج۱ص۵۵٦)

## ﴿۲﴾فوراً باران اودريدو (حِکايت)

يو ځله باران وريدو نو حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د آسمان طرف ته نظر پورته کړو او باران ته ئې ارشاد اوفرمائيل چه: ”د فلانکي وخته پورې اودريږه“ چنانچه باران د هُم هغه وخته پورې اوديريدو. (ايضاً ج۱ص۵۵٦)

## ﴿۳﴾ د هَتي د ښپو لاندې ئې اُوچقوئ(حِکايت)

د يو مالدار سړي د ځوئ نه بادشاه خفه شو او هغه ئې د مرکز الاولياء لاهور نه سرهِند ته اوغوښتو او د هغه په باره کښې ئې دا حُکم جاري کړو چه هغه څنګه راشي نو د هَتي د ښپو لاندې ئې اوچقوئ. هغه اميرزاده چه کله سرهِند ته اورسيدو نو د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو او په ډيره زياته عاجزئ ئې د خپل خلاصي د پاره عرض اوکړو. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه لږ ساعت مُراقَبه اوکړه او بيا ئې اوفرمائيل: د بادشاه د طرفه به تا ته هيڅ تکليف نه رسي بلکه هغه به په تا مهربانه شي. هغه اميرزاده [يعني د مالدار سړي ځوئ] عرض اوکړو چه: محترمه باباجي! تاسو ليکلي

راکړئ چه د هغه لِيك نه زما زړه ته سکون نصيب شي. چنانچه هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د هغه د تسلَّئ د پاره داسې اوليکل: ”دا کس د بادشاه د قهر [يعني غُصّې] په وجه دلته راغلي دې، لِهٰذا! دې فقير دا په خپل ضمانت کښې واخستو او ده ته ئې د دې مصيبت نه خلاصې ورکړو.“ هغه اميرزاده چه ځنګه د بادشاه دربار ته ورغلو نو د حضرتِ شيخ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د ارشاد مطابق چه بادشاه ځنګه هغه اوليدو نو مُسکې شو او د نصيحت په طور ئې ورته يو څو خبرې اوکړې او په ډيره زياته مهربانئ او عِزَّت ئې هغه ته انعام و اکرام ورکړو او رُخصت ئې کړو. (حَضَراتُ القُدْس، دفتر دُوُم ص۱۷۰ مُلَخَّصاً)

## ﴿۴﴾د ماشوم په باره کښې ئې غيبي خبر ورکړو(حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د يو عزيز ځامن به پيدا کيدل خو په ماشوم والي کښې به مړه کيدل. يو ځل چه ماشوم پيدا شو نو هغه، هغه ماشوم په غيږه کښې واخستو او د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خِدمت کښې حاضر شو او ټوله قِصَّه ئې ورته اوکړه او عرض ئې اوکړو چه مونږه منښته کړې ده چه که دا ماشوم ژوندې شو نو مونږه به دا ستاسو په غُلامئ کښې درکوو. هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه ورته اوفرمائيل: د ده نوم عبد الحق کيږدئ او دا به ژوندې پاتې کيږي او

د ډېر عمر خاوند کيږي به، خو هره مياشت په خواجه بهاءُ الدِّين نقشبند رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه پسې نياز [يعني د ايصالِ ثواب خيرات] کوه.'' اَلْحَمْدُ لِلّٰه د هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د فرمان د بَرَکت په وجه هغه ماشوم غټ عُمر ته اورسيدو. (ايضاً ص۲۰۵ مُلَخَّصاً)

## ﴿۵﴾د زړه په خبره پوهه شو!(حِکايت)

د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه د يو مُرِيد بيان دي چه: ما به په پټه اَپيم خوړلو او د هغې په باره کښې هيڅ چا ته هُم خبر نه وو. يو ځل زه د هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه سره يو ځائ روان ووم نو هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه ما ته اوکتل او اوئې فرمائيل: څه وجه ده چه زه ستا په زړه کښې تِياره وِينم؟ ما اِقرار اوکړو چه زه اَپيم خورم خو نوره د هغې نه توبه کووم. (ايضاً)

## ﴿۶﴾ غواړه څه غواړې

يوه ورځ حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه يواځې تشريف فرما [يعني ناست] وو، يو نوې مسلمان شوې کس د هغوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه په خِدمتِ بابَرَکت کښې موجود وو. دوئي رَحْمَةُاللهِتَعَالٰی عَلَيْه هغه ته اوفرمائيل: غواړه څه غواړې؟ چه څه غواړې هُم هغه به درکړې شي. ''هغه عرض اوکړو چه: ''باباجي! زما وررور او مور په کُفر باندې ډېر

زيات سخت ولاړ دي، زما د ډير کوشش باوجود هُم هغوئي اسلام نه قبلوي، تاسو پرې نظر واچوئ چه هغوئي مسلمانان شي.“ اوئې فرمائيل: د دې نه علاوه نور هُم څه غواړې؟ هغه عرض اوکړو چه: ستاسو د نظر په بَرَکت به ما ته ښيګړې راکړې شي خو اوس مې هُم دا خواهش دې چه هغوئي مسلمانان شي. اوئې فرمائيل: ”هغوئي به ډير زر مسلمانان شي.“ د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د دې فرمان نه درې ورځې پس د هغه ورور او مور سرهِند شريف ته راحاضر شو او مسلمانان شو. (ايضاً ص۲۰۳ مُلَخَّصاً) **د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت جَلَّ جَلَالُهٗ دِ په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دِ زمونږه بې حِسابه بخښنه اوشي.**

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## ﴿۷﴾ د مُرِيد مدد ئې اوفرمائيلو(حِکايت)

د **حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خاص مُرِيد سيِّد جمال يوه ورځ په يوه دره تيريدلو چه ناڅاپه ورله يو زمرې مخې ته راغې! هغه په خپل ځائ ولاړ پاتې شو، او فوراً ئې خپل پير حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ياد کړو او عرض ئې اوکړو چه [يا پيره بابا] بچ مې کړه! ناڅاپه **حضرتِ** سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه عصا [يعني کونتيئ] په لاس د خپل مُريد د مدد د پاره تشريف راوړو، زمرې ئې په کونتيئ اووهو، چه سيِّد جمال صاحب سترګې اوغړولې

[يعني بيا ئې هغه طرف ته اوکتل] نو د زمري پته هُم نه وه او حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه هُم تشريف وړي وو. (زُبدةُ المَقامات ص ۲۶۳ مُلَخَّصاً)

شیروں پہ شرف رکھتے ہیں دربار کے کتّے شاہوں سے بھی بڑھ کر ہیں گدایاں محمد

د زمرو نه ئې بهتر دي د دربار سپي بادشاهانو نه بهتر دي غُلامان د محمد

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## ﴿۸﴾ د بدعقيدګئ ئې په خوب کښې علاج اوکړو(حِکايت)

يو کس به د ځينې صحابه عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان خاص طور مَعَاذَالله [يعني د الله جَلَّ جَلَالُه پناه] د حضرتِ سَيِّدُنا اَمِير مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ سره کِينه لرله. يوه ورځ هغه د مکتوباتِ اِمامِ رَبَّاني رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه "مکتوبات" لوستل، چه په هغې کښې ئې دا عِبارت اولوستو چه: "حضرتِ سَيِّدُنا اِمام مالِك رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه فرمائي: حضرتِ سَيِّدُنا امير مُعاوِيه رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُ ته بد وئيل حضرتِ سَيِّدُنا صديق اکبر او حضرتِ سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنۡهُمَا ته د بد وئيلو برابر دي." نو هغه [په زړه کښې] د هغوئي [يعني حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني] رَحۡمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه نه خفه شو او مَعَاذَ الله عَزَّوَجَلَّ د مکتوباتو کتابونه ئې په زمکه غوزار کړل. چه کله هغه کس اوده شو نو حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه د هغه په خوب کښې تشريف راوړو. هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيۡه په ډيره غُصَّه کښې هغه د دواړو غوږونو نه اُونيوو او ورته ئې اوفرمائيل: "ته زما په لِيك اعتراض

کوېِ او هغه زمکې له را اچوې! که ته زما قول (یعني خبره) مُعتبره نه ګڼرې نو راځه! چه تا د حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الْکَرِیۡم خوا ته بوځم، د چا د پاره چه ته صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنۡهُم ته بد وائې.“ بیا هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه هغه یو داسې ځائ ته بوتلو چه هلته د یو نُوراني مخ والا بزرګ رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه تشریف فرما [یعني ناست] وو. حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په ډېره زیاته عاجزئ هغه بزرګ ته سلام اوکړو، بیا ئې هغه کس نزدې را اُوغوښتو او اوئې فرمائیل: دا تشریف فرما بزرګ حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الْکَرِیۡم دې، واوره! څه فرمائې. هغه کس ورته سلام اوکړو، حضرتِ سَیِّدُنا شیر خُدا کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الْکَرِیۡم د سلام جواب ورکولو نه پس هغه ته اوفرمائیل: خبردار! د رسولِ اکرم صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د صحابه سره دُښمني مه ساته، د هغوئي په باره کښې هیڅ څه ګُستاخانه جُمله د خُلې نه مه اُوباسه. بیا ئې د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه طرف ته اِشاره اوکړه او اوئې فرمائیل چه: د ده د لِیك نه هیڅ کله مخ مه اړوه (یعني مخالفت ئې مه کوه).“ د دې نصیحت نه پس هُم د هغه د زړه نه د صحابهٔ کرام کِینه لرې نه شوه نو حضرتِ سَیِّدُنا عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی کَرَّمَ اللّٰہُ تَعَالٰي وَجۡهَهُ الْکَرِیۡم اُوفرمائیل چه: د ده زړه لا تر اوسه نه دې پاك شوې. دا ئې اُوفرمائیل او حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه ته ئې حُکم اوکړو چه دا یوه څپېړه اُووهه، هغوئي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیۡه په حُکم عمل اوکړو

او چه ښځګه ئې هغه په ښځ باندې یوه څپېړه اووهو نو د زړه نه ئې د صحابۂ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنۡھُم ټول نفرت ختم شو. چه کله هغه رابیدار شو نو د هغه زړه د صحابۂ کرام عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان د محبَّت نه ډك وو او د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه محبّت ئې هُم په زړه کښې یو په سله زیات شوې وو (حَضَراتُ القُدُس، دفتر دُوُم ص۱٦٧ مُلَخَّصاً)

## ﴿۹﴾ د خپل وفات ئې د مخکښې نه خبر ورکړو(حِکایت)

حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د خپل وفات نه ډېر مخکښې خپلې بـي بـي رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡهَا ته فرمائیلي وو چه ما ته [دا خبره] ښکاره کړې شوې ده چه زه به ستا نه مخکښې وفات کیږم، چنانچه هُم داسې اوشو چه هغوئې رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه د هغې رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡهَا نه مخکښې وفات شو. (ایضاً ص۲۰۸ مُلَخَّصاً)

## د خاورې ماته پیاله

د سلسلۂ نقشبندیه عظیم پیشوا حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَۃُاللہِ تَعَالٰی عَلَیۡه یوه ورځ په عامه بَیۡتُ الۡخلاء کښې د بنګې سره د صفائې د پاره په ګندګۍ ککړه د خاورې یوه غټه پیاله چه د هغې لږه غاړه ماته وه، اولیدله، نو بې قراره شو ځکه چه په هغې لفظِ ”اَللّٰه“ لیکلې شوې وو، زر ئې پیاله را اوچته کړه، او په خپل خادِم ئې د اوبو کوزه را اوغوښتله، هغه پیاله ئې په خپلو لاسو ښه اومړله او پاکه ئې کړه. بیا

ئې په يوه سپينه کپړه کښې اونغښتله او په اوچت ځائ ئې په ادب کيښوده. هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه به بيا په هغه پياله کښې اوبه څښلې. يوه ورځ د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د طرف نه هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه ته اِلهَام اوشو: ”ښکه چه تا زما د نوم تعظيم اوکړو دغسې به زه هم ستا نوم په دُنيا او آخِرت کښې اوچت کړم.“ هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه به فرمائيل: ”د الله جَلَّ جَلَالُهٗ د پاك نوم په ادب کولو ما ته هغه مقام حاصل شو چه هغه ما ته د سلو کالو په عبادت هم نه شو حاصليدې!“ (ايضاً ص١٠٦)

## د ساده کاغذ هم ادب پکار دې

د سلسلۂ عاليه نَقشبنديَّه عظيم پيشوا حضرت سَيِّدُنا شيخ احمد سرهِندي المَعروف مجدِّد اَلف ثانى رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه به د ساده کاغذ هُم احترام کولو. يوه ورځ په خپله بِستره تشريف فرما وو، ناڅاپه بې قراره شو او ښکته راکوز شو، او اوئې فرمائيل: معلوميږي چه د دې بِسترې نه لاندې څه کاغذ دې. (زُبدةالمَقامات ص١٩٤)

## په لاره باندې کاغذونه په لتو مه وهئ

خوږو خوږو اسلامى ورونړو! معلومه شوه چه د ساده کاغذ هم ادب شته دې، او ولې به نه وي چه په دې باندې قرآن و حديث او اسلامى خبرې ليکلې شي. اَلۡحَمۡدُلِلّٰه عَزَّوَجَلَّ په بيان شوي حکايت کښې د مُجَدِّد اَلف ثانى رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه ښکاره کرامت دې، چه هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰى عَلَيۡه ته د

ليدلو نه بغير هم دا معلومه شوه چه د بِسترِې نه لاندې کاغذ دې او هغوئي رَحۡمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيۡه بنکته راکوز شو چه غُلامانو ته هم د کاغذ د ادب ترغيب ورکړي شي. په ”بهارِشريعت“ جِلد اَوَّل صفحه ٤١١ کښ دي، چه په کاغذ استنجا پاکول منع دي اګرکه په هغې هيڅ هم نه وي ليکلي شوي، اګرکه د ابوجَهل په شان کافر نوم پرې ليکلې شوې وي.“

## د حُرُوفو تعظِيم پکار دې

په **فتاوٰی** رَضَوِيَّه شريف کښ دي چه: ”زمونږه عُلَماء په واضح طور فرمائي چه نفسِ حُرُوف قابِلِ ادب دي اګرکه جُدا جُدا ليکلي شوي وي لکه تختئ يا وَصلي (يعني کاغذ) باندې، اکرکه په هغې باندې بد نوم ليکلې شوې وي لکه فِرعون، ابوجهل وغيرهُما، بيا هُم د حُروفو تعظيم پکار دې، اګرچه د دې کافِرو نومونه د بې ادبئ او تذليل لائق دي.“ (فَتَاوٰی رَضَوِيَّه، ج٢٣، ص٣٣٦) پخپله د ابوجهل هيڅ تعظيم نشته ځکه چه هغه خو سخت کافِر وو، خو ولې چه د لفظ ”ابوجهل“ ټول حُرُوفِ تَهَجِّي (ا ب و ج ه ل) قُرآني حُرُوف دي. ځکه د ليکلي شوي لفظ ”ابوجهل“ د حُرُوفو (د ابوجهل د ذات نه بلکه د دې حُروفو) په دې معنو تعظِيم شته دې ځکه دا په ناپاکه يا د ګندګئ په ځائيونو کښ د اچولو يا په لتو د وهلو وغيره اجازت نشته. په فتاوٰی عالَمګِيري کښ دي چه: که د فِرعون يا ابوجهل نوم په څه هدف يا نښه ليکلې شوې وي (نو

هغه نښه جوړول) د هغې طرف ته تير وِيشتل مکروه دي ځکه چه د دې حُروفو هُم عِزَّت او تَوقِير شته دې." (عالمگیری ج۵، ص۳۳۳) البته په ټِيشو پيپر باندې د لاس وچولو يا ټائيلِټ پيپر باندې د استنجاء د مقام پاك کولو عُلَماءِ کرام اجازت ورکوي ځکه چه دا د هُم دې کار د پاره تياريږي او په دې باندې څه ليك نه کيږي [يعني د لِيك د پاره نه دي]

## ځواني څنګه تيرول پکار دي؟

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! که د عُمر هره حِصَّه وي، خو په نفساني خواهشاتو پوره کولو کښې مشغول اوسيدو کښې خير نشته، او د ځوانئ په زمانه کښې خو د نفس شرارتونه په خپله اوچته درجه وي، نفس ته د عِلم او عمل د وَاکو اچولو په ذريعه د دې د تربِيَّت کولو هم دا بهترين وخت وي. حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هُم دې طرف ته د توَجُّه کولو ارشاد فرمائيلې دې چنانچه هغوئ رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: "د ځلمي توب د شروع وخت چه څنګه د خواهشاتو د راپاريدو وخت دې، هُم دغسې د عِلم او عمل خپلولو هُم دا وخت وي، په ځوانئ کښې کړې عِبادت د بوډاوالي د عِبادت نه غوره دې." (مکتوباتِ اِمام رَبّانی، دفتر سوم، حِصَّه هشتم، مکتوب ۳۵ ج۲ ص۸۷ مُلَخَّصاً)

## ځواني نعمتِ خداوَندي

خوږو خوږو اسلامي وروڼړو! د ځوانئ د ورځو قدر کول ډير

ضروري دي ځکه چه په ځوانئ کښې د انسان اندامونه مضبوط او طاقتور وي، په دې وجه په احکامو عمل او عبادت کول په ډېره ښه طريقه سره کيدې شي، په بوډاوالي کښې دا سپرلي چرې نصيب کيږي! هغه وخت خو جُمات ته تلل هُم مشکل شي. د لوَګې او تندې د شِدَّت د برداشت کولو هِمَّت هُم نه وي، نفل څه چه فرض روژې پوره کول هُم مشکل شي. ځواني د الله تعالیٰ ډير لوئ نعمت دې، چا ته چه دا نعمت نصيب شي هغه ته پکار دي چه د دې قدرا وکړي او زيات نه زيات وخت په عبادت او اِطاعت [يعني فرمانبردارئ] کښې تير کړي، د وخت قيمتي ملغلرې فائده مندې جوړول پکار دي. حکيمُ الاُمَّت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَيْه نقل کوي: "د ځوانئ عبادت د بُوډاوالي د عبادت نه غوره دي ځکه چه د عبادت اصل وخت د ځوانئ وخت دې.

کر جوانی میں عبادت کاہلی اچّھی نہیں
جب بڑھاپا آگیا کچھ بات بن پڑتی نہیں

ہے بڑھاپا بھی غنیمت جب جوانی ہو چکی
یہ بڑھاپا بھی نہ ہوگا موت جس دم آگئی

اوکړه په ځوانئ کښې عبادت سستي ښه نه ده
چه راشي بوډاوالي بنده هيڅ نه شي کولې

که ځواني لاړه بوډاتوب هُم غنيمت دې
بوډاوالي به هُم لاړ شي چه مرګ راشي

د وخت قدر اوکړئ، دا غنيمت اوګڼړئ، تير شوې وخت بيرته نه راځي." (مِراۃُ المناجيح ج۳ ص۱٦٧)

## د حافِظ قُرآن ادب

یو ځل یو حافِظ صاحب د حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خوا کښې ناست وو او د قُرآنِ مجید تلاوت ئې کولو. دوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه چې هغه ته اوکتل نو اوئې لیدل چې کوم ځائ دوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه تشریف فرما [یعني ناست] دې هغه ځائ د حافظ صاحب د ځائ نه لږ شان اوچت دې نو دوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فوراً لاندې کښیناستلو. (زُبدةُ المَقامات ص۱۹۵)

## د مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني ۴۰ معمولات

۞ که سفر به وو او که حَضَر [یعني کور]، که یخني به وه او که ګرمي به وه، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به نیمه شپه رابیداریدلو او مَسنُون دُعاګاني به ئې لوستلې ۞ پابندئ سره به ئې تَهَجُّد کولو او په تَهَجُّد کښې به ئې اُوګد قِراءَت کولو ۞ اودس کولو ته به مخ په قبله کښیناستلو او ۞ په اوداسه کښې به ئې د چا نه مدد نه اخستلو ۞ په اوداسه کښې به ئې مِسواك کولو او د فارغیدو نه پس به ئې کله مِسواك د کاتِب [یعني لیکونکي] په شان په غوږ کښې کیښودو او کله به ئې خادِم ته حواله کړو ۞ د اوداسه په دوران کښې به ئې د ټولو سُنَّتو او مُستَحباتو ډیر خیال ساتلو ۞ د اوداسه د اندامونو د وینځلو په وخت کښې او د اوداسه نه پس به ئې مسنون دُعاګاني لوستلې ۞ د نمانځه د پاره به ئې ښه لِباس اغوستلو او په ډیر زیات وقار سره

به د نمانځه د پاره تیار شو ❁ د سحر د نمانځه سُنَّت به ئې په کور کښې ادا کول ❁ د سحر فرض به ئې د جَماعتِ کثِیره (یعني د غټې جَمعې) سره ادا کول ❁ د نمانځه نه فارغیدو نه پس به ئې مسنُون دُعاګانې لوستلې، بیا به ئې ښي یا ګڅ طرف ته مخ کړو او دُعا به ئې کوله او د دُعا نه پس به ئې دواړه لاسونه په مخ راښکلو ❁ د نمانځه نه پس به ئې د ذِکر او تِلاوتِ قُرآنِ کریم حلقه قائِموله او د ابتدائي طالبِ عِلمانو تربِیَّت به ئې کولو ❁ هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَیْه به اکثر خاموشه اوسیدلو ❁ کله کله به هغوئي په ژړا شو او د سترګو نه به ئې اوښکې رواني شوې (یعني ډیر به ئې اوژړل) ❁ د خاښت نمونځ به ئې په پابندئ سره کولو ❁ هغوئي به بالکل ډیر لږ طعام خوړلو ❁ د طعام نه مخکښې وروستو دعاګانې به ئې لوستلې ❁ (د ورځې د طعام خوړلو نه پس به ئې لږ ساعت قیلُوله کوله ❁ چه اذان به ئې اوریدو نو جواب به ئې ورکولو ❁ د ماسپښین د نمانځه نه پس به ئې بیا د ذِکرِ اِلٰهی حلقه قائِموله، د هغې نه پس به ئې د یو دوه سبقونو تدرِیس کولو ❁ تَحِیَّةُ الْمَسجِد به ئې په پابندئ سره ادا کول ❁ د ماښام د نمانځه نه پس به ئې د اَوَّابِین شپږ نفلونه ضرور ادا کول ❁ د وِترو د نمانځه ادا کولو نه پس به د سُنَّت مطابق مخ په قبله څملاستلو او ښي لاس به ئې د مخ ښي طرف نه لاندې کړو او آرام به ئې فرمائیلو ❁ چه د نمر سترګه یا سپوږمۍ به تندر اونیوله نو د

کُسُوف او خُسُوف نمونځ به ئې ادا کولو ۞ هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه به د رَمَضَانُ الۡمُبَارَك په آخري عَشره کښې اعتکاف کولو ۞ د ذِیالۡحِجَّةُ الۡحَرَام د شروع په عشره (يعني د شروع په لسو ورځو) کښې به د مخلوق نه ډېر ته شو او په عبادت کښې به مشغول شو ۞ په کثرت سره به ئې دُرُود شريف لوستلو او خُصوصاً د جُمُعې په شپه به ئې د مُريدانو سره په شريکه د زر کَرَته درود شريف نذرانه په بارګاهِ رِسالت کښې وړاندې کوله ۞ په سفر او حَضَر [يعني کور]، کښې به ئې د تراوِيح شل رکعاته په خُشُوع او خُضُوع ادا کول ۞ په رَمَضَانُ الۡمُبَارَك کښې به ئې کم نه کم درې ځله قُرآنِ شريف ختمولو ۞ ولې چه هغوئي رَحۡمَةُاللهِتَعَالٰیعَلَيۡه حافِظِ قُرآن وو ځکه به ئې اکثر د قُرآنِ مجيد د تِلاوت سلسله جاري ساتله ۞ د سفر په دوران کښې به ئې هُم د قُرآنِ مجيد تِلاوت جاري ساتلو او په دې دوران کښې به چه آيتِ سَجده راغې نو د سورلۍ نه به کُوز شو او سَجدۀ تِلاوت به ئې اوکړه. ۞ په انفرادي [يعني يواځې] نمونځ کښې به ئې د رُکوعِ او سجدې تسبيحات پينځه، ووه، نهه يا يوولس ځله ادا کول ۞ د سفر د پاره به ئې اکثر د کُل يا د زيارت د ورځې انتِخاب کولو ۞ د جامو اغوستلو، په آئنه کښې د کتلو، د اوبو د څښلو، د طعام خوړلو، د مياشت ليدلو او د نورو معمولاتو چه کومې مسنون [يعني سُنَّت] دُعاګانې دي، د هغې اهتِمام به ئې کولو ۞ د نمانځه د ټولو سُنَّتو او

مُستحباتو به ئې ښه اهتمام کولو ۞ چه کله به کوم يو بزرګ د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د ملاقات د پاره تشريف راوړو نو دوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به تعظيماً اودريدلو ۞ په سلام کښې به هميشه مخکښې کيدلو ۞ عَلّامه بَدرُ الدِّين سرهِندي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: ما ته عِلم نشته [يعني ما ته ياد نه دي] چه کله څوك د هغوئي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه نه په سلام کولو کښې مخکښې شوې وي ۞ عِمامه مبارکه [يعني پټکې شريف] به ئې [هميشه] په سر کولو ۞ پاجامه [يعني پرتوګ] به ئې هميشه د ګيټو [يعني پړکو] نه اوچت ساتلو. (حَضَراتُ القُدُس، دفترِ دُوُم ص۸۰ تا ۹٦ مُلَخَّصاً)

## د حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني عِمامه شريف

د حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ رَبّاني، مُجَدِّد اَلفِ ثاني، شيخ اَحمد فاروقي سَرهِندي نقشبندي رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰی عَلَيْه مُتَعَلِّق منقُول دي چه هغوئي به عِمامه شريف په سر کوله او شمله به ئې د دواړو اُوګو په مينځ [زوړنده] وه. (ايضاً ص ۹۲ مُلَخَّصاً)

**خوږو خوږو اسلامي وروڼو!** په حديثونو مباركو كښې د عِمامې [يعني پټکي] شريف د ترلو ډير فضائِل بيان کړې شوي دي، چنانچه

## د عِمامه [يعني پټکې] سره نمونځ د لس زره نيکو برابر

رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د عِمامې سره نمونځ د لسو زرو نيکو برابر دې. (اَلْفِردَوْس بِمَأْثُورِ الخِطَابِ ج۲ ص٤٠٦ حديث۳۸۰۵ فتَاوٰی رَضَوِيّه مُخَرَّجه، ج٦، ص۲۱۳)

## آیا عِمامه به صرف عُلَماء تړي؟

حضرتِ عَلَّامه مُفتي وقارُ الدِّین قادِرِي رَضَوِي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د یو سوال په جواب کښې فرمائي: عِمامه صرف د عُلَماء او مَشائِخ د پاره نه ده بلکه د ټولو مسلمانانو د پاره سُنَّت ده او د عِمامې فضِیلت او عِمامه په سر د نمانځه کولو فضیلت په اَحادیثو کښې بیان شوې دې ځکه د هر بالِغ سړي د پاره عِمامه تړل د ثواب کار دې او د ښه کار کولو د عادت اچولو د پاره ماشومانو ته هُم د دې تعلیم ورکول پکار دي.
(وقارُ الفَتاوٰی ج۲ ص۲۵۲)

## عالِم او جاهِل ټول دِ عِمامه تړي

بَحرُ العُلُوم حضرتِ عَلَّامه عبدُ المَنان اعظمي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دې سوال (چه د عام مسلمان یعني د غیرِ عالِم د پاره عِمامه تړل سُنَّت دي که نه؟)په جواب کښې ارشاد فرمائی: هر مسلمان که هغه عالِم وي او که غیرِ عالِم د هغه د پاره عِمامه تړل سُنَّت دي، اِمام بَیهَقِي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په شُعَبُ الْاِیْمان کښې د حضرتِ سَیِّدُنا عُباده بِن صامِت رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه رِوایت کړې دې چه رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي چه "عِمامه تړل اختیار کړئ ځکه چه دا د فرښتو نښه ده او دا (یعني شمله) د ملا شا ته اوباسئ." (شُعَبُ الْاِیْمان لِلْبَیْھَقِی ج۵ص۱۷۶ حدیث۶۲۶۲) په "بهارِ شریعت" کښې دي چه عِمامه تړل سُنَّت دي. [بهارشریعت ج۳، ص۴۱۸] د

دي اَحکامو نه هُم دا ظاهِره ده چه مسلمان که عالِم وي او که جاهِل تړلو ته د عِمامې [یعني پټکي] ترڅلو حُکم دي.

(فَتَاوٰی بَحرُ الْعُلوم، ج۵، ص۴۱۱ مُلَخَّصاً)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## اِتِّباعِ سُنَّت د عِشق رَسُول نښه

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د رښتيني عاشِقِ رسول نښه دا ده چه هغه خپل ژوند د نَبِيِّ رَحمت صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق د تيرولو کوشش کوي، دغسې په سُنَّتِ نَبَوِي باندې د عمل کولو په وجه د عاشِقِ صادِق زړه په عِشقِ مُصطَفٰی کښې بې قراره وي. د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه هر عمل به د سُنَّتِ مُصطَفٰی صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مطابق وو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه به خبرې، ګرځیدل او د ژوند نور معمولات د سُنَّت مطابق کول، د سُنَّتو په بَرَکت چه هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه ته کوم مقام او مرتبه نصیب شوي وو د هغې مُتَعَلِّق هغوئي رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه پخپله اِرشاد فرمائي چه: د نَبِيِّ کريم، رَءُوفٌ رَّحِيم صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کمالِ اِتِّباع (يعني پوره فرمانبردارئ) په وجه ما ته هغه مقام راکړې شو چه هغه د ”مُقامِ رِضا“ نه هُم اوچت دي. (حَضَراتُ القُدس، دفتر دُوُم ص۷۷) د سُنَّتو مطابق ژوند تيرول ډير لوئ سعادت دي ځکه چه د دې په بَرَکت مُقامِ مَحبُوبِيَّت نصيب کيږي ځنګه چه هغوئي

رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ ٻخپله ارشاد فرمائي چه: هر هُغه څيز چه په هغې کښې د محبوب اخلاق او عادتونه ښکاري د محبوب سره د تَعَلُّق په وجه او د هغه د تابِعدارئ په وجه هغه [څيز] هُم محبوب او ګران شي، د دې طرف ته په دې آيت کښې اِشاره فرمائيلې شوې ده:

فَاتَّبِعُوْنِیْ یُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ

مفهوم ترجمۂ کنزُالاِیمان: نو زما فرمانبردار شئ الله به تاسو محبوب [يعني ګران] ساتي. (پ٣، اٰلِ عمران: ٣١)

لِهٰذا د الله تعالٰی د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په فرمانبردارئ کښې کوشش کول بنده مُقامِ محبوبِيَّت ته رسوي، نو په هر عقلمند باندې لازِم دي چه د **الله** تعالٰی د حبيب صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په اِتِّباع [يعني فرمانبردارئ] کښې ظاهِراً او باطِناً [يعني په ښکاره او په پټه] پوره کوشش کوي." (مکتوباتِ اِمام رَبّانی، دفتر اوّل، حِصَّه دُوُم، مکتوب٤١ ج١ ص٥)

## تصانِيف[يعني کتابونه]

د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ په تصانِيفو کښې د فارسئ "**مکتُوباتِ اِمامِ رَبَّانی**" زيات مشهور دي. د دې [مکتوباتو] په عربئ، اُردو، تُرکي او انګريزي ژبو کښې ترجمې هُم شائِع شوې دي. د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د څلورو رسالو نومونه اوګورئ: (١) اِثباتُ النُّبُوَّة (٢) رِساله تَهلِيلِيَّه (٣) معارِفِ لَدُنِّيَّه (٤) شرحِ رُباعيات.

## د مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللهِ تَعَالٰى عَلَيْه ۱۱ اَقوال

۞ د حلال و حرام په معامِله کښې هميشه باعمله عُلَمَاءُ ته رُجُوع کول پکار دي او د هغوئي د فَتَاویٰ مطابق عمل کول پکار دي ځکه چه د نجات ذريعه صرف شريعت دې. (ايضاً حِصّه سِوُم، مکتوب ۱۶۳ ج۱ ص۴۶)

۞ د اَحکامِ شريعت صحيح نَوعِيَّت د عُلَمَاءِ آخِرت نه معلوموئ، د هغوئي په خبره کښې يو تاثِير وي، شايد چه د هغوئي د مبارکو خبرو په وجه د عمل توفيق هُم اوموميءُ. (ايضاً حِصّه دوم، مکتوب ۷۳ ج۱ ص۵۹)

۞ په ټولو کارونو کښې د هغه باعمل عُلَمائے کرام د فتاویٰ مطابق ژوند تيرول پکار دي چا چه د ''عَزِيمَت'' لار اختيار کړي ده او د ''رُخصت'' نه اِجتِناب (يعني ډډه) کوي او دا د ابدي او اُخرَوِي نجات ذريعه او وسِيله ګرځول پکار دي. (ايضاً مکتوب ۷۰ ج۱ ص۵۲)

۞ د آخِرت نجات په ټولو افعالو او اقوالو او اُصُول و فُروع کښې د [عقِيدۂ] اَهلِسُنَّت په پيروئ [يعني تابعدارئ] باندې موقوف دې.
(ايضاً مکتوب ۶۹ ج۱ ص۵۰)

۞ د سرکارِ دوعالم صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سوري نه وو.
(ايضاً دفتر سوم، حِصّه نهم، مکتوب ۱۰۰ ج۲ ص۷۵)

۞ الله تعالیٰ په خپل خاص عِلمِ غيب باندې خپل خاص رسولان مُطّلع کوي (يعني خبروي) (ايضاً دفتر اوّل، حِصّه پنجم، مکتوب ۳۱۰ ج۱ص۱۶۰)

۞ د حُضُورِ اکرم صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تول صحابۂ کرام رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم اَجْمَعِین په ذِکرِ خير (يعني ښو خبرو) يادول پکار دي.

(ايضاً، حِصّه چهارم، مکتوب ۲۶٦ ج۱ ص۱۳۲)

۞ په صحابۂ کرام عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کښې د ټولو نه افضل حضرتِ سَيِّدُنا ابوبکر صِدِّيق رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دې، د هغوئي نه پس حضرتِ سَيِّدُنا عُمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دې، په دې دواړو خبرو باندې د صحابۂ کرامو او تابِعِينو رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم اِجماع ده، او د اِمام اعظم ابو حنيفه او اِمام شافعي او اِمام مالِك او اِمام احمد بِن حَنبل رَحِمَهُمُ اللہُ تَعَالٰی او اکثرو عُلمائے اَهلِسُنَّت په نزد د حضرتِ سَيِّدُنا فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ نه پس په ټولو صحابۂ کرامو عَلَیْہِمُ الرِّضْوَان کښې افضل سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ دې، او د هغوئي نه پس د ټولو نه افضل سيِّدُنا عَلِيُّ الْمُرْتَضٰی كَرَّمَ اللہُ تَعَالٰی وَجْهَهُ الْكَرِيْم دي. (ايضاً مکتوب ۲٦٦ ج۱ ص۱۲۹، ۱۳۰ مُلَخَّصاً)

۞ په مجلِسِ مِيلاد شريف کښې که په ښه آواز د قُرآنِ مجيد تِلاوت اوکړې شي، نعت شريف او د صحابه او اهلِ بَيت او اولِيائے کامِلِين رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُم اَجْمَعِین منقَبَت اولوستلې شي نو په دې کښې څه باك دې!

(مکتوباتِ اِمام رَبّاني، دفتر سوم، حِصّه هشتم، مکتوب۷۲ ج۲ ص۱۵۷ مُلَخَّصاً)

۞ د حُضُور تاجدارِ رِسالت صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره د کمال [يعني پوره پوره محبَّت] نښه دا ده چه بنده د حُضُور صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د

دُښمنانو سره کامِله [يعني مکمله] دُښمني اوساتي. (ايضاًدفتر اوّل،حِصّه سوم، مکتوب ١٦٥ ج١ص٤٨ مُلَخَّصاً)

## سندره غږول قتل کوونکي زهر دي

۞ **حضرتِ** سَيِّدُنا **مُجَدِّد** اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: د سندرو غږولو خواهش مه کوئ او مه د هغې په خوند فِدا کيږئ ځکه چه دا په شهدو کښې ګډ شوي زهر دي. (ايضاًدفتر سوم، حِصّه هشتم، مکتوب ٣٤ ج٢ص٨٦ مُلَخَّصاً)

## په غوږونو کښې به ورته وِيلې کړې شوي سِيکه اړوي

**خوږو خوږو اسلامي ورونړو!** سندرې او سازونه اوريدل شيطاني کارونه دي، سعادت مند مسلمانان د هغې خوا له هُم نه ورځي. د سندرو او سازونو نه بچ کيدل بيحده ضروري دي ځکه چه د دې عذاب به هيڅ څوك هُم برداشت نه کړې شي. د حضرتِ سَيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نه رِوايت دې: څوك چه د کومې يوې سندر غاړې خوا ته ناست سندره اوري، د قيامت په ورځ به **الله** تعالٰی د هغه په غوږونو کښې وِيلې کړې سِيکه اچوي. (جَمعُ الْجَوامِع لِلسّيُوطی ج٧ ص٢٥٤ حديث ٢٢٨٤٣)

## مناقِبِ غوثِ صمداني په ژبه د مُجَدِّد اَلفِ ثاني

د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارې **مَکْتَبَةُ الْمَدِيْنه** چاپ شوي د ٥٦١ صفحو کتاب "**ملفُوظاتِ اَعلیٰ حضرت**" صفحه ٤٢٢ کښې دي چه: حضرتِ مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمائي: څه چه د فُيُوض او بَرَکاتو

مَجمع ده [یعني څه چه برکتونه دي] هغه ټول را ته د سرکارِ غوثِیَّت [د پیرانِ پیر شیخ عبدُ القادِر جِیلاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دربار] نه راکړې شوي دي.

نُوْرُ الْقَمَرِ مُسْتَفَادٌ مِنْ نُوْرِ الشَّمْس یعني د سپوږمۍ رڼړا د نمر د سترګې د نُور نه مُستفاد [یعني اخستې شوي] ده.

(مکتوباتِ اِمام رَبّانی، دفتر سوم ، حِصّه نهم، مکتوب۱۲۳ ج ۲ ص۱۴۵ مُلَخَّصاً)

## مُجَدِّد اَلفِ ثاني او اَعلیٰ حضرت

### (پینځه یو شان صِفات)

خوږو خوږو اسلامي ورونړو! د اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مُجَدِّدِ دِین و مِلّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د ژوند ډیر داسي حالات شته دي چه په هغي کښې د حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د سِیرت څرګونه ښکاري بلکه په تعلیم و تربیَّت، دِیني خِدماتو تر دې چه د وِصال [یعني وفات] په میاشت کښې ئې هُم یو شان والي دې. د دې تفصیل څه داسي دې:

﴿۱﴾ د حضرتِ سَیِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ او اِمامِ اهلِسُنَّت رَحْمَۃُ اللّٰہِ تَعَالٰی عَلَیْہ د دواړو نوم **احمد** دې.

﴿۲﴾ دواړو بزرګانو د خپل خپل والِد صاحِب نه عِلمِ دِین حاصل کړې دې ﴿۳﴾ د دواړو حضراتو عُمر [د اسلام د حِفاظت د پاره] د اسلام خِلاف راپورته کیدونکو فِتنو ختمولو کښې تیر شو ﴿۴﴾

دواړو صاحِبانو کله هُم باطِل ته سر نه دي ټِيټ کړي ﴿٥﴾ د دواړو اولياءِ کرامو وِصال [يعني وفات] په صَفَرُ الْمُظَفَّر کښې شوي دي.

## مکتوباتِ اِمامِ رَبَّاني او اعلىٰ حضرت

اعلىٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په خپل يو مکتوب کښې د "مکتُوبِ اِمامِ ربّاني" نه يو فرمان نقل کړي دي او د حضرتِ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه فرمان ئې اِرشاد او هِدايت ګرځولي دي چنانچه اِمامِ اَهلِسُنَّت رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه خپل يو اَهلِ مَحبَّت کس د ګُمراه خلقو د صُحبت په نُقصاناتو پوهه کوي او ارشاد فرمائي: د صوفيانو په شان صورت جوړوونکو ستا په شان خلقو ته د شيخ مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه يو ارشاد درياددووم او عَين د هِدايت د اِمتِثال (يعني د عمل کولو) اُمّيد لرم. بيا ئې د حضرت مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه د مکتُوب کلام ذِکر کړو او ارشاد ئې اوفرمائيلو چه: مولانا اِنصاف! تاسو يا زَيد يا نور د مصلحت ارکان په دِين او مذهب زيات پوهيږئ که حضرت شيخ مُجَدِّد؟ ما ته بالکل ستاسو د صِفاتو اُميد نشته که تاسو دا د هِدايت نه ډك ارشاد مَعَاذَالله عَزَّوَجَلَّ لغو او باطل اوګڼړو، او چه دا حق دي او بيشکه حق دي نو بيا به ئې ولې نه منئ." (مکتوباتِ اِمام احمد رضا ص ۹۰ مُلَخَّصاً)

## د وفات نښې

حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّدِ اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰی عَلَيْه په ۱۰۳۳ھ کښې سرهِند

ته تشريف راوړو او خَلوَت نَشِين شو (يعني د ټولو نه عليٰحده اوسيدل ئې شروع کړل). د خپل خالِق او مالِك جَلَّ جَلالُهُ د ملاقات شوق د مخلوق نه بې نيازه کړو. په دې خَلوَتِ خاص کښې صِرف يو څو کسانو ته حُجرې (يعني کوټې) ته د راتلو اجازت وو چه په هغوئي کښې صاحبزادګان [يعني دوه ځامن] خواجه محمد سعيد او خواجه محمد معصُوم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِمَا او په خُلفائے کرامو کښې حضرت خواجه محمد هاشِم کِشمي، حضرت خواجه بدرُ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْهِمَا او يو دوه خادِمان [شامِل وو]. حضرت خواجه محمد هاشِم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د وِصال [يعني وفات] نه مخکښې دَکَن ته تشريف وړې وو او حضرت خواجه بدرُ الدِّين رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د آخِر وخته پورې حاضِر وو. چه کله حضرت خواجه محمد هاشِم رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه رُخصتيدلو نو حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه اوفرمائيل: "دُعا کووم چه په آخرت کښې مونږ يو ځائې جمع شو." (زُبدةُ المَقامات ص٢٨٢ تا ٢٨٥ مُلَخَّصاً)

## وِصال مُبارك

په ٢٨ صَفَرُ الْمُظَفَّر ١٠٣٤ھ / ١٦٢٤ء ئې خپل ځان خالِقِ حقيقي ته اوسپارلو [يعني وفات شو] اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ.

(حَضَراتُ القُدُس، دفتر دُوُم ص٢٠٨)

## د جنازې نمونځ او تدفِين

د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ د جنازې د نمانځه جَمعَه حضرت خواجه محمد سعِيد رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ورکړه. د هغې نه پس هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ د مرحُوم صاحبزاده حضرت محمد صادِق رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ په څنګ کښې دفن کړې شو. دا هُم هغه مقام وو کوم ځائ کښې چه حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ په خپل ژوند کښې يو نُور ليدلې وو او وَصِيَّت ئې فرمائيلې وو چه: "زما قبر زما د ځوئ د قبر مخې ته جوړ کړئ ځکه چه زه هلته د جَنَّت په باغونو کښې يو باغ وِينم." په هغه قُبّه (يعني ګُنبد) کښې مخکښې په ۱۰۲۵ه کښې صاحبزاده مرحوم خواجه حضرت محمد صادِق رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ خخ کړې شو او د هغې نه پس حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ د هغوئي په څنګ کښې دفن کړې شو. اوس هغه روضۀ مبارکه بيا تعمير کړې شوې ده. (زُبدةُالمَقامات ص۲۹۴، ۲۹٦، ۳۰۵ مُلَخَّصاً)

## د اولاد مبارك نمونه

د هغوئي رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ۷ صابزادګان [يعني ځامن] او درې صاحبزاديانې [يعني لونړه] وې چه د هغوئي تفصيل دا دې: **صاحبزادګان:** ﴿۱﴾ حضرت خواجه محمد صادِق رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ﴿۲﴾ حضرت خواجه محمد سعيد رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ﴿۳﴾ حضرت خواجه محمد معصوم رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ﴿٤﴾ حضرت خواجه محمد فَرُّخ رَحْمَۃُاللّٰہِتَعَالٰیعَلَیْہ ﴿٥﴾ حضرت خواجه محمد

عِيسىٰ رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه ﴿٦﴾ حضرت خواجه محمد اشرف رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه ﴿٧﴾ حضرت خواجه محمد يحيي رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه **صاحبزادياني:** ﴿١﴾ بي بي رقيه بانو رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡهَا ﴿٢﴾ بي بي خَدِيجه بانو رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡهَا ﴿٣﴾ بي بي اُمِّ كُلثُوم رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡهَا. (زُبدةُ المَقامات)

## خُلَفائے کرام

د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه د يو خو خُلَفائے کرام نومونه دا دي: (١) صاحبزاده خواجه محمد صادِق (٢)صاحبزاده محمد سعيد (٣)صاحبزاده محمد معصوم (٤) حضرت مير محمد نعمان برهان پورِي (٥) شيخ محمد طاهر لاهوري (٦) شيخ كريمُ الدِّين بابا حسن ابدالي (٧) خواجه سيِّد آدم بِنَوّري (٨) شيخ نُور محمد پتني (٩) شيخ بدِيعُ الدِّين (١٠) شيخ طاهِر بَدَخشي (١١) شيخ يار محمد قديم طالَقاني (١٢) حضرتِ عبدُ الهادي بدايوني (١٣) خواجه محمد هاشِم كِشمي (١٤) شيخ بدرُ الدِّين سرهِندي رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰى.

(حَضَراتُ القُدُس)

## مُجَدِّد اَلفِ ثاني او خُلَفائے اعلىٰ حضرت

د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه يو خليفه اِمامُ المُحَدِّثين حضرتِ سَيِّدُنا محمد دِيدار علي شاه اَلوَري رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه هُم نقشبندي مجدِّدي دي، د اعلىٰ حضرت رَحۡمَةُاللّٰهِتَعَالٰى عَلَيۡه خُلَفاءُ به هُم د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني

رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه سره ډير زيات عقيدت لرلو، سَيِّدي قُطبِ مدينه حضرت ضياءُ الدِّين اَحمد مَدَني رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه يو ځله دواړه لاسونه په سر کيښودل او ارشاد ئې اوفرمائيلو چه: "حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه خو زمونږه د سرونو تاج دې." (سيِّدي ضياءُ الدِّين احمد القادري ج١ ص٥٠٩ مُلَخَّصاً)

خليفۂ اعلٰی حضرت سَيِّدُنا اَبُو البَرَكات سَيِّد احمد قادري رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه د حضرتِ سَيِّدُنا مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه "٤٠ ارشادات" جمع کړي دي.

يا ربِّ مُصطَفٰی! د خپل وَلـيِّ بَرحَق حضرتِ سَيِّدُنا اِمامِ رَبَّاني مُجَدِّد اَلفِ ثاني رَحْمَةُاللّٰهِتَعَالٰی عَلَيْه په خاطر زمونږه بې حسابه بخښنه اُوفرمائې او په جَنَّتُ الفِردوس کښې د خپل خوږ حبيب صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ګاونډ رانصيب کړې.

اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د کامیابۍ نُسخه!!

اِرشادِ اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ تَعَالٰی عَلَیْه : ښکاره کامیابي دا (ده) چه په زړه او بدن دواړو چه څومره اَحکامِ اِلٰهِیَّه (یعني د الله تعالیٰ اَحکام) دي د (هغه) ټولو پابندي کوي، نه یوه کبیره (یعني غټه) ګناه کوي، نه په صغیره (یعني وړه) ګناه پورې نښتې وي. د نفس خَصائِلِ ذَمِیمه (یعني بد خصلتونه مَثَلًا بُخل او حسد وغیره) که دفع (یعني لرې) نه شي نو چه معطله اوسي او په هغې باندې عمل نه کوي، مَثَلًا که په زړه کښې ئې بُخل دې نو په زړه دِ جَبر (یعني زور) راوړي او لاس دِ فراخه ساتي او که حسد پکښې وي نو د محسُود (یعني د چا سره چه حسد لري د هغه) بد دِ نه غواړي۔ (فتاویٰ رَضَوِیَّه، ج۲۱، ص۵۰۳)

MC 1286


فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ، بابُ المدینه (کراچۍ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net